# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## پرېکړه

Ursula Nafula
Vusi Malindi
Zahidullah Abid

This work is licensed under a Creative Commons Attribution 4.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/4.0

پرېکړه

Ursula Nafula
Vusi Malindi
Zahidullah Abid

2

پښتو ps

زما په کلي کې ډېرې ستونزې وې. موږ به د يوه نل څخه د اوبو راوړلو لپاره په اوږد قطار کې درېدلو.

مورې به د هغو خواړو لپاره په تمه وو چې
خلکو به خیراتولو.

موږ به د غلو له ډاره د خپلو کورونو دروازې وختي تړلې.



موږ ټولو په یوه غږ چیغې کړې، "موږ باید خپل ژوند بدل کړو." له هغې ورځې راپېدېخوا موږ د خپلو ستونزو د حل لپاره په ګډه کار کوو.

ډېرو ماشومانو ښوونځي پرېښودل.



يو بل سړی ودريدلو او ويې ويل:
“سړيان به په ګډه سره يوه څاه وکيني.”

پېغلو نجونو به په نورو کليو کې د
خدمتګارانو په توګه کار کوه؟.



يوې ميرمنې راغږ کړ: “ښځې کولی شي
زما سره يوځای شي ترڅو خوراکي
شيان وکرو.”

ځوانان هلکان به په کلي کې وزګار ګرځېدل، او نورو به د پردیو په کروندو کې کار کولو.



اته کلن جمعه ګل چې د ونې په ډډه ناست و، نارې کړې، "زه د کلي په پاکولو کې مرسته کولی شم."

کله به چې باد لګېده، بې کاره او اضافه
کاغذونه به په ونو او ښاخونو کې
بندېدل.



زما پلار ودرېد او ويې ويل، “موږ باید د
خپلو ستونزو د حل لپاره په ګډه کار
وکړو.”

خلک به د هغو ماتو شوو او بې ځايه غورځول شوو ښيښو له امله چې د نورو لخوا په ډېره بې احتياطۍ سره پر ځمکه اچول شوي و، ژوبلېدل او زخمي کېدل.



خلک د يوې لويې ونې لاندې راټول شول.

يوه ورځ ياد نل وچ شو او زموږ د اوبو لوښي او بيلرونه خالي شول.



زما پلار کور په کور وګرځېده او له خلکو يې وغوښتل چې د کلي اړوند غونډه کې ګډون وکړي.